


د زده کوونکو او ښوونکو د حلقو جدول

صلی الله علیه وآله وسلم

# د رسولِ ذِیشان

# درې حقونه

28 اګست، 2025

# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

(1): پۀ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بيان: 5 منټه (2): دُعا يادول: 5 منټه

(3): [د خپلو اعمالو] جائزه: 5 منټه، ټول وخت: 15 منټه۔

نن به د زده کولو او ښودلو پۀ حلقو کښې د رسولِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې حقونه پۀ باره کښې ګټه ور معلومات درکولے شي او د قرض د ورکولو پۀ وخت لوستلے کيدونکې دُعا به يادولے شي۔ پۀ اخره کښې به د نيک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کيږي۔ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!

## د دُرُود شريف فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا ووئيل: جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَّا هُوَاَهْلُهٗ [1] 70 فرښتے به د هغه د پاره تر زرو [1000] ورځو پورې نيکئ ليکي۔ [2]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د رسولِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې حقونه

## آيت مبارک

الله پاک فرمائيلي دي:

| | |
|---|---|
| وَ تُعَزِّرُوْهُ وَ تُوَقِّرُوْهُ ؕ وَ تُسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّ اَصِيْلًا ﴿۹﴾ (پاره:26، سورة الفتح:9) | ترجمهٔ كنزُالعِرفان: او د رسول تعظيم او توقير کوئ او سحر او ماښام د الله پاکي بيانوئ۔ |

[1] …الله پاک دې زمونږ د طرف نه حضرت مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې جزا عطا کړي د کومې چې هغه اهل دے۔

[2] …معجم اوسط، جلد:1، صفحه:82، حديث: 235۔

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: چا چې زما اطاعت وکړو، هغهٔ د الله پاک اطاعت وکړو، چا چې زما نافرماني وکړه هغهٔ د الله پاک نافرماني وکړه-

## د رسولِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم درې حقونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پهٔ مونږ باندې زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډیر احسانونه دي، ځکه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حقونه هم ډیر زیات دي، نن به مونږه د رسولِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دریو حقونو د زده کولو سعادت حاصلوو-

**وړومبے حق:** پهٔ نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې ایمان راوړل-

**وضاحت:** د حضورِ اقدس صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ نبوت او رسالت باندې ایمان راوړل، څهٔ چې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د الله پاک د طرف نه راوړي دي، د زړهٔ نه پهٔ هغې باندې ایمان لرل او پهٔ ژبه باندې د هغې اِقرار کول، پهٔ نبي پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې **ایمان راوړل** دي- [1] پهٔ نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې ایمان راوړل پهٔ هر کَس باندې فرضِ عین دي- **پهٔ نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې پهٔ ایمان راوړلو کښې دا خبرې هم شاملې دي:**

❀ رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټول مخلوق طرف ته رالیږلے شوے دے ❀ خوږ آقا، د مدینے مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو نه اخري نبي دے، د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پس به بَل یو نبي هم نهٔ راځي ❀ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ مونږ کښې د چا پهٔ شان نهٔ دے بلکې پهٔ خپل ذات او صفتونو کښې د ټول مخلوق نه افضل دے ❀ نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته چې کوم خاصیتونه او کمالونه عطا کړے شوي دي پهٔ هغې باندې هم یقین ساتل ضروري دي- مثلاً: رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د قیامت پهٔ ورځ زمونږ پهٔ

---

[1] ...الشفاء بحقوق المصطفٰے، القسم الثانی، باب الاول فی فرض الایمان بہ...الخ، صفحہ:6۔

شان د ګنهګارانو شفاعت فرمائي ❁ نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته الله پاک عِلمِ غيب عطا کړے دے ❁ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم الله پاک د خپل نُور نه پيدا کړے وغيره۔

**دويم حق:** د رسولِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ادب او احترام کول

**وضاحت:** د خوږ آقا، د مدينے مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په هر حال کښې، د ظاهر او د باطِن نه تعظيم او توقير [قدر] کول (په هر مسلمان باندې) واجِب دي۔ [1] **د باطِن نه د تعظيم کولو مثالونه:** د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ذِکر په وخت په زړهٔ کښې خوشحالي، سرور او سکون پيدا کول ❁ د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هره خبره د زړهٔ نه منل، که په عقل کښې راځي او که نهٔ راځي وغيره۔ **د ظاهر نه د تعظيم کولو مثالونه:** ❁ د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ذِکر کولو په وخت د اَدب او د اِحترام پوره خيال ساتل، مثلاً داسې الفاظ اِستعمالول په کومو کښې چې تعظيم وي ❁ که کيدے شي نو د ذِکر په وخت د التحيات په شکل کښې په ادب کيناستل ❁ د ذِکر مبارک په وخت درودِ پاک لوستل ❁ که روضې مبارکې ته حاضري نصيب شي نو هلته لـهجه نرمه او اواز ورو ساتل، او ډيره عاجزي اِختيارول ❁ د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د نسبت لرونکو څيزونو ادب او احترام کول ❁ نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته په نوم سره اواز نهٔ کول ، لکه **يا محمد، يا احمد** نه وئيل ولې چې دا بے ادبي او حرام کار دے، [2] لهذا چې کله هم هغوي ته اواز کوئ نو په **يا رسول الله، يا نبي الله، يا حبيب الله** وغيره دې لفظونو سره اواز کوئ۔

**دريم حق:** د رسولِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اتّباع کول

**وضاحت:** د چا مکمل اطاعت او خالص په هغه پسې تلل **اتّباع** ده۔ [3] په اُمت باندې

---

1...المعتقد والمنتقد مترجم ، صفحه:214۔

2...فتاوى رضويه، جلد:30 صفحه:157۔

3...تفسير نعيمى جلد:3، پاره:3، سورهٔ آل عمران ، تحت الآيت:31، صفحه:375، بتغير قليل۔

د دواړو جهانو د سرکار، د زړونو د قرار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حق دے چې د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تابعداري وکړے شي، د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سيرت د ځان د پاره **نمونه** جوړه کړے شي-

الله پاک فرمائي:

**قُلۡ اِنۡ کُنۡتُمۡ تُحِبُّوۡنَ اللّٰہَ فَاتَّبِعُوۡنِیۡ یُحۡبِبۡکُمُ اللّٰہُ** (پارہ:3، سورۂ آل عمران:31)

**ترجمۂ کنزُ العِرفان:** اے حبيبه! وفرمايه چې اے خلقو که تاسو د الله سره محبت کوئ نو زما فرمانبرداره جوړ شئ، الله به تاسو سره محبت کوي-

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې زما اطاعت وکړو، هغه د الله پاک اطاعت وکړو او چا چې زما نافرماني وکړه، هغه د الله نافرماني وکړه-

## دوهرائي

نن مونږه د رسولِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دري حقونه زده کړل ، پهٔ ذِهن کښې يې کښينوئ: **(1)**: پهٔ نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې ايمان راوړل **(2)**: د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ادب او احترام کول او **(3)**: د رسولِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اتِّباع کول-

**وضاحت:** د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حقونو پهٔ باره کښې د نورو معلوماتو د پاره د مکتبة المدينه کتاب ❁ **سيرتِ مصطفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، د صفحه: 825 نه 850 پورې او ❁ **سيرت رسول عربي**، د صفحه: 628 نه 695 پورې ولولئ-

## د ښودلو او زده کولو پهٔ حلقو کښې يادولو والا دُعا

## د قرض نه د خلاصيدو دُعا

اَللّٰھُمَّ اکۡفِنِیۡ بِحَلَالِکَ عَنۡ حَرَامِکَ

وَاَغۡنِنِیۡ بِفَضۡلِکَ عَمَّنۡ سِوَاکَ

**ترجمه**: اے الله پاکه! ما ته حلال رزق راعطا کړې او د حرامو نه مې بچ کړې او په خپل فضل او کرم سره مې د ځان نه علاوه د غیرو نه بے نیازه کړې۔ (1)

## د اِجتماعي جائزې طریقه (72 نیک اعمال)

### د روزانه 56 نیک اعمال:

(1): آیا ښه ښه نیتونه مو کړي؟ (2): آیا پینځه واړه نـمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آیا د هر نـمونځ نه مخکښې مو د نـمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آیا د شپې مو سُوْرَةُ الْمُلْك لوستلے یا اوریدلے؟ (5): آیا د هر نـمونځ نه پس مو آیة الکرسی، تسبیحِ فاطمه، سُورَةالاِخلاص لوستلے؟ (6): آیا د کنزُ الایمان نه مو 3 آیتونه یا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسیر سره لوستلې یا اوریدلې؟ (7): آیا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آیا 313 کرته مو دُرُود شریف لوستلے؟ (9): آیا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آیا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آیا د فضول نظر نه په بچ کیدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آیا 12 منټه مو د مکـتبة الـمدینه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آیا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آیا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آیا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آیا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آیا په تاسو او جي وئیلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آیا په مکـتبة الـمدینه بالغان کښې مو لوستلي، یا مو ښودلي؟ (19): آیا د ماسخوتن د جَمعې نه پس په دوو ګینټو کښې کور ته رسیدلي یئ؟ (20) : آیا دوه ګینټې مو په دیني کارونو باندې لګولې؟ (21): آیا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاڅول کړي؟ (22): آیا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آیا په کور

---

1... مستدرک، کتاب الدعاء والتکبیر ...الخ، باب دعاء قضاء الدین، جلد:2، صفحه:230، حدیث:2016۔

کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آیا د جومات درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (25): آیا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آیا د زلفو د پرېښودو په سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آیا یو موټے ګیره مو پرېښودې؟ (28) : آیا د ګناه کولو په شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آیا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آیا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آیا څۀ نا څۀ مو په سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آیا د ماسپښین سنتِ قبلیه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړې؟ (33): آیا تهجد یا صلوٰةُ اللیل مو ادا کړې؟ (34): آیا د اَوَّابِیْن یا اِشْرَاق او څاښت نـمونځ مو کړے؟ (35):آیا د مازدیګر یا د ماسخوتن سُنتِ قبلیه مو ادا کړې؟ (36): آیا په 12 دیني کارونو کښې مو د یو دیني کار ترغیب ورکړے؟ (37) : آیا د نورو نه غوښتلے شوي څیزونه خو مو اِستعمال کړي نۀ دي؟ (38): آیا د دروغو، غیبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آیا د څۀ وخت د پاره مو مَدَني چینل کتلے؟ (40): آیا ذاتي دوستي خو مو نۀ ده کړې؟ (41): آیا په وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آیا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نۀ دي وئیلي کوم چې زړۀ نۀ دي منلي؟ (43): آیا د صفايۍ او سلیقې خیال مو ساتلے؟ (44): آیا د مسلمانانو د عیبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آیا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسیر اوریدو /بیانولو په حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آیا د څۀ نا څۀ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئیلې؟ (47): آیا چوک درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (48): آیا مور پلار او پیر او مرشد ته مو ایصالِ ثواب کړے؟ (49): آیا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آیا د ټریفک د قوانینو پابندي مو کړې؟ (51): آیا د تنظیمي طریقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آیا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آیا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آیا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او په کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آیا عمامه شریف مو په سر کړې؟ (56): آیا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدینه کارکردګي

❀ پهٔ لیکلو خبرې کول 12 کرته ❀ پهٔ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ❀ پهٔ سترګو کښې د سترګو اچولو بغیر خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نیک اعمال

(57): آیا د اِسلامي خوئیندو هفته وارې اِجتماع ته مو څوک اِسلامي خور د کور نه لیږلې؟ (58): آیا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې یا اوریدلې؟ (59): آیا پهٔ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آیا یومِ تعطیل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آیا د مریض یا غم زپلې تپوس یا غم خورې او د چا پهٔ وفات کیدو مو تعزیت [لاس نیوه] کړې؟ (62): آیا پهٔ هفته کښې مو پهٔ یوه ورځ کښې روژه نیولې؟ (63): آیا هفته واره رساله مو لوستلې یا اوریدلې؟ (64): آیا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آیا مخکښې راتلونکې او اوس د نهٔ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د دیني ماحول سره تړون پیدا کړو؟